انجنیر سلطان جان کلیوال ۲۰۱۸/۰۱/۱۲

# ګوندونه که باندونه؟

تنکی زلمی وم چی په افغانستان کی د دموکراسی نغاره و کړنګیدله. د افغانستان په ټولو تعلیمی مؤسسو کی د خبرو(بیان) د آزادی تر نامه لاندی چی د هیواد د اساسی قانون د کومی مادی په کومه فقره کی ورته کومه وړوکی او تته اشاره شوی وه، داسی و کارول شوه چی همدی یوی جملی نور ټول اساسی قانون د عمل له صحنی نه بیرون کړ. د ګوندونو د قانون د نشتوالی سره سره په لسګونو سیاسی ډلی او ګوندونه جوړ شول، ځنی دی ګوندونو ته د اخبار د خپریدو اجازه هم ور کړله شوه او هری ډلی خپله کړنلاره د خپلو نالوستو او کم لوستو وطنوالو خصوصاً دمتعلیمینو او محصلینو سره شریکه کړله. هری ډلی په کافی اندازه ځوانان خپلی لوری ته را جلب کړل. په مجموع کی دری ډوله سیاسی ډلی یا ګوندونه جوړ شول چی عبارت وو له:

ـ چپی ډلی چی د سوسیالیزم (شوروی اتحاد او چین) د کمونستی ګوندونو پیښی او پیروی کوله، او د همدی هیوادونو له اړخه ورسره په پټه او ښکاره مرسته کیدله.

ـ اسلامی ډلی چی په مصر کی د را جوړی شوئ اخوان المسلیمن د ډلی لاریی تعقیبوله او د اسلامی هغو ډلو له اړخه ورسره مرسته کیده چی د مرستی امکانات یی لرل.

ـ دریم بیا هغه ډلی وی چی د ملت پالنی یا نشنلیزم سندره یی غږوله او کوم ښکاره مرسته کونکی تر شا نه لیدل کیده.

لمړی ډله چی د شوروی او چین له کمونیستی افکارو پیروی کوله په لومړی سر کی په دوه برخو ویشلی شوی وه چی یوه د خلکو د دموکراتیک ګوند (باند) په نامه او بله یی بیا د شعله جاوید په نوم مشهوره شوه. وروسته دا دواړه ډلی په نورو وړو وړو ډلو (باندونو) باندی سره تقسیم شولی چی هم یی په خپل منځ کی روزمره شخړی کولی او هم به یی هره ورځ د نورو ډلو ټیلو سره سر یا غابښ مات و.

دویمه ډله هم واحده پاتی نه شوه اول خو د شعیه او سُنی په دوه ډلو سره بیل ول او وروسته بیا په هری یوی کی نوری نوری بی شمیره کوچنی ډلګی جوړی شوی، چی هم یی په خپل منځ کی د خشونت میدان ګرم کړی و او هم یی د نورو ډلو سره د کافرو یا ملحدینو په نوم تر وژلو پوری ناراستی نه کوله.

دریمه ډله چی ځانونه یی ملت پالان ګڼل هم سالمه پاتی نه شوه د نشنلیزم نه یی فاشیزم او رسیزم ته خبره ورسیده او افغان قومونه یی یو د بل په وړاندی راتلونکو ټکرونو ته اماده کړل.

د دی ټولو ډلو په کړو وړو باندی لیکنه او څیړنه نه یواځې د یوی مقالی د حوصلی نه بهر کار دی بلکی څو کتابونه یی هم په پوره توگه په ځان کی نه شی را نغاړلی، نو ځکه زه دلته په ډیر لنډیز باندی پری خبری کوم.

د سردار محمد داود په مشری د ۱۳۵۲ هـ ش کال د سرطان د میاشت د ۲۶ نیټی کود تا په ظاهره کی د دی ټولو ډلو ټپلو هغه بی نظمی او هرج و مرج چی د دموکراسی په کلونو کی خصوصاً تعلیمی مؤسسو (پوهنتونونه او ښونځیو) کی جوړ کړی و له منځ یوړ او ځوانان او تنکی ځوانان یی تر ډیره حده د دی سیاسی بانډونو له ناوړو سیاسی گټو له اخستنی نه وژغورل، خو له بده مرغه د نوی جمهوری نظام په دننه کی د پردیو د مفکوری پیروانو ته داسی ونډه ور کړله شوه چی جمهوری نظام یی نه یواځې داچی په هماغو لومړنیو شیبو کی د خپلو ولسونو نه لری کړ بلکی په تدریج سره یی راتلونکو بدمرغیو ته افغانی ټولنه ور ټیل وهله او په آخره کی یی جمهوری نظام هم له پښو و غورزاوه.

د ۱۳۵۷ هـ ش کال د ثور د اومی نیټی په خونړی کودتا سره، شوروی پلوه بانډ په دی بریالی شو چی د افغانستان جمهوری نظام را نسکور کړی او په سلطنتی کورنی پوری مربوط جمهور رئیس سردار محمد داود د خپل ټولی کورنی سره په ډیره بی رحمانه توگه له منځه یوسی او سیاسی قدرت تر د لاسه کړی. د همدی ورځی په راسبا، دی بانډ د خپلو ټولو مخالیفینو په نیولوچی لا د مخه ورته معلوم وو پیل وکړ، په لنډه موده کی یی په لسونو زرونو نه یواځی سیاسی مخالیفین بلکی عام ولسی وگړی هم بی له جرم او بی له محکمی څخه له تیغه تیر کړل. په خپلو منځو کی یی هم یو په بل داسی مرگوونی گزارونه وکړل چی د افغانستان په تاریخ کی یی نمونه نه شی پیدا کیدای.

ډیره موده نه وه تیره شوی چی د شوروی اتحاد سری لښکری افغانستان ته را تیری شوی. د سرو لښکرو په راتلو سره تقریباً د هیواد نیم وگړی د وطن پریښولو ته مجبور شول. کله چی د مهاجرو سیلاب دگا وندیو هیوادونو پاکستان او ایران په لوری ور روان شو ، نو دی دواړو هیوادونو د موقع نه په گټی اوچتونی سره د اسلامی بیلو بیلو ډلو په هغو مشرانو باندی چی لا د مخه د جمهوریت په کلونو کی په دی هیوادونو کی دیره وو، راټول کړل او دا ډلی یی د راتلونکو شومو هدفونو د پاره د سخت دریځواو میانه حالو په بیلو بیلو بانډونو و ویشلی او هره ډوله یی په مرموزه توگه د بلی سره د دښمنی په کولو مصروفه کره. په پاکستان کی اوه (۷) ډلی او په ایران اته (۸) ډلی جوړی شوی، دا ډلی وسله والی شوی او لکه د شوروی د لښکرو په څیرپه هیواد کی د ننه د پاتی بی وزلو وطنوالو د تباهی او د هیواد د ټولو شتمنیو د بربادولو او لوټولو د پاره را ولیږلی شوی. د دی د پاره چی افغان مسلمان ملت د دلی ډلو په جنایاتو باندی اعتراض ونه شی کولی د دوی هرعمل ته یی د جهاد نوم ور کړ او هر تخریبونکی یی د مجاهد په نوم و نوماوه. په زړه پوری خو داوه چی د یوه کافرپه مرسته د بل کافر په وړاندی د جنگ په نوم د هیواد ټوله شتمنی داسی پوه پنا شوه چی بیا یی هم څوک په اسانی سره مثال نه شی میندلی.

نتیجه دا شوه چی شوروی مات شو، چپ افراطی بانډونه له قدرت نه را ولویدل، وطن د شوروی د سلطی نه آزاد شو خو د اسلامی بانډونو د مشرانو له خوا په دواړو لاسو د پاکستان د غلام دولت مخی ته د تحفی په توگه کینودل شو. د پاکستان او ایران د لیډرشیپ لاندی د دی بانډونو تر منځ د قدرت د نیولو د پاره د هیواد په ټولو ښارونو کی د گرمی جگړی اور بل شو. د کابل ښکلی ښار چی لا د مخه تر ډیره حده ړندو توغندیو بدرنگ کړی و په بل مخ را وا غوښت او تر شپیتو زرو نه زیات ښاریان یی و خوړل. کشمکش روان و، محلی سلطنتونه جوړ شوی وو، د ښارونو په هره کوڅه کی ځانگړی پاچاهی جوړی وی، د هیواد شرقی او جنوبی سیمی پاکستان خپلی و گڼلی او ایران تلاش کی وو

چې د هیواد مرکزی، غربی او شمالی ساحو ته چې لا د مخه یې د خراسان تر نامه لاندې خپل ملکیت ګڼلې و، تر خپلې ولکې لاندې راولې او د افغانستان په نوم موجوده جغرافیه له منځه یوسی.

پاکستان ته د ایران لاس را غزونه ښه نه بریښیده خپل نور اضافی لښکر یې د طالیبانو په نوم سره را منظم کړ اوپه پخوانیو بې کیفایته دوستانو(جهادی باندونو) پسې یې را ولیږل. طالبانو په لنډ وخت کې د افغانستان په (۷۰) سلنه برخې خپل کنترول ټینګ کړ او ورسره یې په داسې وحشت او دهشت پیل وکه چې بیا یې هم په تاریخ کې مثال نه شو میندلی. پاکستان دې لوبې ته ډیر خوښ په دې وو چې فکر یې کاوه نور نو داسې کوم خنډ نشته چې د افغان ولس ټول واک د دوی له لاسه وکاږی. ایران او روس هم زیار و ویسته چې د جمعیت د باند پخوانی یاران چې څومره یې توان وی د پاکستانی طالبانو په وړاندی تقویه کاندی، خو د (۲۰۰۰) وم کال د سپتمبر د (۱۱) نیتې پیښې هر څه لکه د نیویارک د دوه لویو برجونو په څیر په بل مخ راواړول. امریکا د جنګ میدان ته را داخله شوه او د هماغه پاکستان سره په جوړجاړی کې د طالبانو قوت او دولت ته خاتمه ورکړه چې دوی د افغانستان د خپلولو د پاره روزلی وو.

اوه لس کاله پوره شول د امریکا په مشرئ د نوری نړی نظامی ماشین هم په افغانستان کې په شدت سره چالان دی. امریکا د خپلو هدفونو د ښه تر لاسه کولو د پاره د طالبانو تر ماتولو وروسته د افغانانو د پاره د غربی تیکنوکراتانو چې اکثرو لا هم د نشنلستی ډبری په سینه وهلی او د پخوانیو جهادی باندونو د جنګسالارانو یوه داسې مخلوطه او ناپاکه اداره جوړه کړه چې د مرداریو بویونویی په لنده موده کې ټوله دنیا بد بویه کړه او افغانستان د مخدره مواد د تولید تر ټولو ستر، د ټولنیز فساد د موجودیت له مخې په نړۍ کې دویم او د سیاسی باندو د شمیر له مخې د نفوسو په تناسب هم په ټوله نړۍ کې لومړی مقام ته ورسیده.

دا هر یو باند ځان یو سیاسی ګوند بولی ، ملی مرام نامې لری او هر یو د خپلو عوامو او له هر ډول انسانی حقونو نه د محرومو پرګنو په جلب و جزب کې لګیا دی کارکوی تر څو په چور او چپاول کې ور داخل شی، تر څو په دولت کې برخه ولری ، ترڅو د خلکو ترمنځ د فاصلو په ایجاد سره خپل نسونه غوړ کاند او تر څو د افغان ولسونو د بیداری په مخنیوی کې خپل چټل ژوند ته ادامه ورکاندی.

اوس نو تاسو درانه هغه لوستونکی چې د دی باندونو غړی نه یاستی قضاوت و کړی او ژور فکر وکړی چې دا سیاسی ګوندونه دی که د جنایت کارانوباندوونه؟ ایا همدا د لوټمارانو، غلو او لنډه غرو ډلې او باندونه نه دی چې نن یې بیا ټول هیواد د نابودئ د خطر سره مخامخ کړیدی او تر ټولو بده لا داچې ټول ملت یې د نورو د ګټو د ساتنې او د خپل طفیلی ژوندانه د بقا د پاره د نیا بتی جګړو ډګر ګرځولی دی؟؟

بې له شکه چې همدا د ملت په اوږو سپاره باندونه دی چې ټول افغان ولس یې د سختو حالاتو سره مخامخ کړیدی او په ټول توان سره خپلو دې شرمونکو عملونو ته ادامه ورکوی.

وروستی خبره داده چې دوی ته د سیاسی ډلو په سترګه مه ګوری بلکې د وطن د تباه کونکو باندونو په ښه یې و پیژنی او له همکاری نه یې لاس واخلئ. جنوری/۱۰/۲۰۱۸ تورنتو - کانادا

پای